**بسم الله الرحمن الرحيم**

## سوري ماشومان په داسې حال کې له يخنۍ مري، چې د مسلمانانو حکام غربي سياستوال ګرموي!



**(ژباړه)**

**خبر:**

د اس بي اس خبري اژانس د خبر له مخې لږ تر لږه ۱۵ سوري پناه‌غوښتونکي ماشومان د ژمي د سختې هوا او د لازمو صحي موادو د نشت له امله مړه شوي دي. په شمالي افريقا او منځنۍ ختيځ کې د يونسيف سيمه‌ييز مدير خيرت کابالاري ويلي دي «په رکبان(د سوريې په شمال ختيځ کې د پناه‌غوښتونکو کمپ) کې د تودوخې د درجې ټيټوالی او د ژوند سخت شرايط د ماشومانو ژوند په خطر کې اچوي او يوازې په يوه مياشت کې شاوخوا اته ماشومان، چې ډېری يې تر څلورو مياشتو او تر ټولو کوچني يې د يوې مياشتې وو، مړه شوي دي.» نشر شوې وېډيوګانې او د پناه‌غوښتونکو عالي کميساري د هغوی بد حالت او سختې ستونزې مني، چې دلته يې ځينې ستونزې يادوو:

سختو بادونو او زياتو اورښتونو «د نورما طوفان» په لبنان کې د سوري پناه‌غوښتونکو ژوند له لوی خطر سره مخ کړی دی، چې ډېری يې په غير رسمي کمپونو او داسې ځايونو کې ژوند کوي، چې لږ امکانات لري. په لبنان کې

بدې هوا او سېلابونو په څو ورځو کې له ٦٦ زیاتې خېمې زیانمنې کړي، چې ١٥ خېمې ډوبې شوي او په بشپړ ډول له منځه تللې دي او تر اوسه ٥٠ زره خلک په ٨٥٠ خېمو کې ژوند کوي، چې ټول یې د سېلاب له خطر سره مخ دي.

**تبصره:**

د مهاجرینو په کمپونو کې ژوند، په هر موسم کې سخت دی، خو په ژمي کې تر ټولو سخت دی؛ ځکه چې د نادره خطرونو، ستونزو او سختیو لامل کېږي. د بېلګې په توګه: د یخنۍ له امله مړینه، سېلابونه او همدارنګه مرضونه د هغو مسلمانانو پر اوږو دروند بار دی، چې عملاً له روحي ستونزو سره هم مخ دي. څه چې په ډاګه دي دا دي، چې مهاجرین او د هغوی د اوسېدلو کمپونه، چې لومړنۍ او ضروري اړتیاوې هم نه لري، په پشپړ ډول هېر شوي او ډېری ماشومان یې نه مناسبې جامې، نه فرش او حتی د اوسېدو ځای هم نه لري. پر دې سربېره د خوړو کموالی، د درملو نشت د هغو ځوانانو ژوند له ناوړه پایلو سره مخ کوي چې عملاً یې له خطر سره مخ دي.

څنګه شونې ده یو سالم ماشوم یو دم ومري؟ چې یوازې کمپلې او جامو اغوستو ته اړتیا لري او مور یې ٩ میاشتې په خپله ګېډه کې وګرځاوه او ټول دردونه یې وزغمل، خو په پایله کې داسې مرحلې ته ورسېده، چې خپل ماشوم یې له لاسه ورکړ. په دې میاشت کې ډېرې خېمې ونړېدې او د ٣٦٠ شاوخوا نورې غیررسمي خېمې سېلابونو خرابې کړې. د استوګنې ٦٠ خېمې په بشپړ ډول له منځه تللي، چې اوسېدونکي یې له استوګنځي پرته په سخته یخنۍ کې پاتې شول. په غېر رسمي خېمو کې د غیر وطنوالو په نامه په کلونو کلونو د خلکو اوسېدل، چې غیر انساني شرایط پکې حاکم وي، د اسلام د سیاسي نظام لپاره یو بد او ناوړه کار دی؛ ځکه د اسلام په سیاسي نظام کې د وطنوالو او غیر وطنوالو په نامه څه نه شته؛ بلکې د ټول رعیت لپاره باید انساني حقونه لکه: کور، جامې او خواړه برابر کړي او حتی له غیر مسلمان رعیت نه، چې د اهل ذمه په توګه پېژندل کېږي، د اسلامي نظام تر سیورې لاندې له هغوی ملاتړ او د دوی شخصي ژوند ته احترام واجب او لازم دی. رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:

**«مَنْ قَتَلَ مُعَاهَداً لَمْ يَرِحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ وَإِنَّ رِيحَهَا تُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ أَرْبَعِينَ عَاماً»**

*__ژباړه:__ څوک چې خپل هم پیمان(هوکړه کوونکی) ووژني، د جنت بوی یې پوزې ته نه رسېږي، په داسې حال کې چې د جنت بوی له څلوېښتو کلو لرې واټن څخه پوزې ته رسېږي.*

د خلافت تر سیورې لاندې د کافر ژوند هم محفوظ دی، نو د مسلمانانو د ژوند په اړه څه فکر کوئ؟ له دې سره سره بیا هم مسلمانان له حساب پرته مري.

د زکات نظام یو له هغو امرونو څخه دی، چې د اسلامي شریعت احکامو د مال راټولول او اړمنو ته یې وېشل واجب کړي دي، داسې چې حاکم یا خلیفه باید د رعیت لومړنیو اړتیاوو ته ورسېږي. رسول الله صلی الله علیه وسلم معاذ ابن جبل رضی الله عنه ته امر وکړ چې یمن ته لاړ شي او ورته ویې ویل:

**«فَأَخْبِرْهُمْ أَنَّ اللَّهَ قَدْ فَرَضَ عَلَيْهِمْ صَدَقَةً تُؤْخَذُ مِنْ أَغْنِيَائِهِمْ فَتُرَدُّ عَلَى فُقَرَائِهِمْ»**

***ژباړه:*** *هغوی(د یمن خلکو ته) خبر ورکړه، چې الله سبحانه وتعالی هغه زکات چې له اغنیاوو نه اخیستل او پر فقیرانو وېشل کېږي، فرض کړی دی.*

د راشده خلافت په نشت کې جمیعتونه او ټولنې پر لړکیو زکات او صدقات وېشي او نور مستحقین پاتې کېږي، خو د خلافت تر سیوري لاندې ټول اقتصادي نظامونه یو ځای او په بشپړ ډول کار کوي.

شونې نه ده څوک چې حقداره وي، لومړنۍ اړتیاوې یې د نورو له لوري پوره شي او د خلافت دولت په نشت کې یې په حق کې عدالت پلی شي، په همدې علت وینو، چې تل هر کال په مېلیونونو کډوال په همغو ستونزو او کړاوونو کې دي. په اسلامي خاورو کې حکام تل د هغه خلافت د بیا راتګ د مخنیوي لپاره هڅې کوي، چې د دوی د قدرت د له منځه تلو لامل کېږي.

**لیکواله: عمرانه محمد**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**۱۴۴۰هـ.ق، د جمادی الاول ۱۸مه**

**۲۰۱۹م، د جنوري ۲۴مه**

**ژباړن: زمری دوست**